ذبیح الله خوګیانی ۲۰۲۳/۰۸/۲۳

# د فقر مخنیوی

په یوه ټولنه کښی تر ټولو لوی او مهم مشکل چی باید مخنیوی یی وشی،هغه د هیواد او د ټولنی د میشتو کسانو د اقتصاد کچه پورته راوستل او د ګاونډو ټولنو او هیوادونو سره یی سیالول دی. فقر او بیچاره ګی د ډیرو ناخوالو پیل شمیرل کیږی. په هر حالت کښی ګیډه ډوډی غواړی او وجود لباس ته ضرورت لری. د مشروع او حلال رزق ګټل او داسی شرایط د ټولنی وګړو ته محیا کول،چی په هغه کښی د حلال روزی موندل د ټولنی هر وګړی ته محیا وی،د مرکزی دولت او د حکومت د مسولیتونو څخه یو لوی مسولیت ګڼل کیږی.

د فقر سره مقابله، د ژوند د سطحی کچه پورته کول،د سهولتونو او خدماتو ارزه کول، امنیت او د ښو اجتماعی،اقتصادی،پانګه اچونی، مخابراتی، مواصلاتی، ترانسپورتی، تعلیمی، سیاسی، او داسی نورو شرایطو سمبالول، هغوی ته وده ورکول، ورڅخه ښه نظارت کول، پلانونه ورته ترل، د پلانونو د پله کیدو په منظور کارپوه ډلی په کار اچول، او داسی نور...ساده او آسانه کار نه دی. خصوصا د یو هیواد په کچه،کله چی داسی پلانونه لاس لاندی نیول کیږی، د هر اقدام څخه د مخه،پلان ګذاری، منطقی تدابیر نیول، بودیجه ټاکل او په نښه کول، د سیاسی او اداری څانګو څخه اړین ملاتړ تر لاسه کول، دا ټول مهم او د توجه وړ نقاط دی. داسی نشی کیدی چی د دی ټکو څخه یو یا دوه یی له نظره وغورځوو او ګنی د خدای په توکل بی له کومی پلانګذاری یی پر مخ یوسو. د خدای ج توکل یو حتمی امر دی،چی هغه په هر کار کښی ضرور او نه جلا کیدونکی اهمیت لری،خو د تګ لاری، خط مشی، پروګرامونو لیکل،اوږد مهاله، منځ مهاله او لنډ مهاله برخی د کار په ګوته کول، او په تدریجی ډول سره بدلون راوستل، د بریالیتوب یو نړیوال اصل او راز دی.

زموږ ګران هیواد افغانستان د تاریخ په اوږدو کښی د ډول ډول کړاونو سره مخ شوی، اوږد مهاله زخم،اوږد مهاله مرحم ته ضرورت لری.اوږد مهاله پټی په خپل وار، اوږد مهاله پلان او حوصلی ته ضرورت لری. د عامی وینا په مطابق د خریطی څخه پرته ډز کول (بی خلطه فیر کردن) یا د وخت او د کاری کدرونو د وخت،او د پر لاس بودیجی ضایع کول دی، او هم د ناکامی یوه ډیره بریالی او په ثبوت یوه رسیپی Recipe دی.

لاندی ټکی د پام وړ ټکی دی، چی کولی شی د ګران هیواد افغانستان د اقتصادی او اجتماعی سطحو د کچو د لوړولو په برخه کښی اړین اوسی:

- د دندو مهیا کول:په یو هیواد کښی چی بیکاری او اوزګاری مروج وی،په هغه ټولنه یا هیواد کښی فقر حتمی موجود او یا راتلونکی دی.د هیواد اسکلیټ یا د ننی ساختار، د هیواد د وګړو پر زحماتو ولاړه ده.مرکزی دولت باید داسی پروګرامونه او پروژی په کار واچوی،چی د هغو پروګرامونو د پله کولو پایله په سنجیده او محاسبه شوی ډول سره نه یواځی هیواد والو ته،بلکه نړیوالی تجارتی او پانګی اچونکی ټولنو ته تشریح او د تجارانو او پانګه اچونکو لپاره داسی شرایط مساعد کړی شی،چی د لویو پروژو په پیل کولو دوی خوشبینه او ورته اړ شی. Quid pro quo یوه مقوله ده چی مطلب یی (دا د دی په مقابل کښی) دی.مطلب دا چی نړیوال پانګه اچونی لپاره داسی پروګرامونه باید وده ومومی چی پانګه اچونکی په هغه کښی خپل د ځآن او خپل د موسسی یا کمپنی لپاره ډیری ګټی او لاسته راوړنی ووینی. علت د پروژو او کارونو د پیل کولو باید ورته جوته شی،تر څو دوی دی ته اړ شی چی ګران هیواد افغانستان ته نظر واړوی او پانګه پکښی واچوی.

د اوزګاری پایله بل څه نه، بلکه روانی،فزیکی،روحی،فکری، اقتصادی،امنیتی،نظامی،اداری،او داسی نور فسادونه او د داخلی او بهرنی مفسدو او شر اچونکی ډلو ټپلو لپاره د لار هوارول دی او بس.

- د تنخوا یا معاش اضغری یا اقل حد ټاکل:په داسی حال کښی چی د کاریابی هلی ځلی لکه پورته چی بیآن شو ډیر اړین او موثر دی.د دی تر څنګ باید د دیاړی،روز مزدوری،معاش او ساعتواره مزدوری د قیمت د ورکولو اصل هم باید وټاکل شی.د نړی پر مخ تللی هیوادونه،د فقر سره د مبارزی په ډګر کښی ډیر کوښښونه کوی. په داسی حال کښی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځير و لولئ

چې فقر یې لا له منځه ندی وړی او د نړیوالی لوړی مشکل یې مکمل نه دی حل کړی، خو دغه معادله او دستور العمل یې د پاملرنې وړ دی.دا چې حد اقل د ورځې او یا ساعتواره تنخواه معلومه وی، نو د هیواد سر تر سره خلک کولی شی خپل د کورنیو د امرار او تغذیې په منظور،کاری پلانونه وتړی او لاس په کار شی.او که داسې پاتی شی لکه دا نن چې دی، نو د معاشاتو په ویش کښی عملی اصول نشته او یا ډیر ضعیف دی.دا چې داسی وویل شی چې صرف حاضری امضا کړئ او ستاسو معاش به احواله وی، دا ډیر ناکامه پروګرام کڼل کیږی. د هیواد کدرونه باید وروزل شی،او د دغه شان راتلونکی لپاره باید کاری کدرونه آماده او تولنی ته وړاندی شی.

- په مالیاتو کښی بدلون راوستل:په داسی حال کښی چې ټول د افغانستان وګړی، کوم چې حکومتی وظایف او دندی لری، د معاشاتو څخه مالیات ورکوی، په همدی ډول د هیواد سر تر سره د مالیاتو یو سیستم باندی کار وشی.هر څوک چې له هری لاری درآمد پیدا کوی، د هغې څخه به مالیه مرکزی حکومت ته ورکوی. دا کار یو ډیر لوی او اوږد مهاله پلان ته ضرورت لری چې د نړیوالی Information Technology سکتورونو مرسته او پانګه اچونو ته سخت ضرورت لری. داسی یو هیواد چې هلته امنیت او اړین بنسټونه لکه سړکونه، لویې لاری،تعمیرات په عصری کچه برابر،د مخابراتو خدمات، او نور د موسسو لپاره خاص د درآمد او پولی لاسته راوړنی شرایط مساعد شوی نه وی، نه دا به هلته ډیر سخته او مشکل کار وی. په دی برخه کښی یو لوی مهاله پلان ګذاری چې په هغه کښی ټول اړخونه یې سنجول شوی وی، ډیر اړین او اشد د ضرورت دی.د عشر او جزیې تولول یو ډیر پخوانی او د معاصر تکنالوژیو سره سمون نه خوړونکی عمل دی.

- کارکنانو ته نور خدمات ارزه کول:په غرب او نورو پر مخ تللو هیوادونو کښی، یوازې د کوپون د کتابچو په ورکولو کارکنان کار کولو ته نه حاضریږی.نوری غوښتنې چې د وخت او د عصر د غوښتنو سره سمون خوری باید په نظر کښی وساتل شی. د ګران هیواد افغانستان په اداری او اقتصادی جوړښت کښی باید Health Insurance یا صحی بیمه ورداخل کړی شی،په دغه صحی بیمه کښی د Stomatology یا د غاښونو د صحت او د Vision یا د سترګو د صحت په برخه کښی بیمی شامل وی. دغه کار ډیر یو لوی پروژه او پروګرام ترتیب او تنظیم کولو ته ضرورت لری.د نړۍ په کچه باید دغه پلان اعلان او اړینو وزارت خانو څخه غوښتنه وشی چې په دی برخه کښی کار پلانونه ولیکی او د تصویب کیدو په موخه یې مقاماتو ته ور وسپاری. هم هغه خبره ده چې تر هغه چې حرکت ونشی، برکت پکښی نه راځی. نور خدمات لکه رخصتی،او Stock Options او داسی نور په لسهاوو مزایاوی دی چې د دندو سره وګړو ته ارزه کیدی شی،خو د خدماتو د جدیت او اهموالی د څیړنی څخه وروسته باید په Phased Approach یا سلسله وار ډول سره په هر یو کار او په دی برخو کښی باید هلی ځلی وشی.

- د کاری وخت تعین کول:په داسی حال کښی چې ممکن دا موجود سهولت وی،خو د هیواد په کچه Business Operation Hours یا کاری وخت باید وټاکل شی. د ورځ په رڼا کښی او د شپې لخوا کاری ساعات باید معلوم او د هیواد په سطحه باید خپور شی.دا کولی شی د هیواد بې وزلو سره ډیره مرسته وکړی. یو شخص کولی شی چې خپل د کورنۍ د وګړو د مهال ویش سره سم، په یو معیین وخت کښی د ځان لپاره یوه دنده وټاکی. داسی یو حالت کولی شی د اوزګارۍ او بې کارۍ عاجل مخنیوی وکړی.ځکه ټول هیواد نشی کولی یوازې د ورځ په اته ساعتو کښی کار ته ولاړ شی.همدا راز د هیواد و نورو هیوادونو سره په نړیواله کچه سیالول هم دی ته ضرورت لری،ځکه د نړۍ د هیوادونو وخت او زمان سره توپیر لری.

- د ټیټو او لوړو تحصیلاتو کچه لوړول:په هیواد کښی د پرمختګ تر ټولو لوی راز په تعلیم او تربیه کښی نغښتنی دی.د تعلیم او تربیې د لا ښه کولو په موخه د اوینو وزارت خانو په راس کښی کار پوه کدرونه کار ته ګمارل او د هغوی څخه په دی برخو کښی د اوږد مهالو پلانونو سمدلاسه لیکل او د تصویب کیدو په منظور یې اړینو کمیټو او ساختارونو ته د بررسۍ او کتنو په خاطر ورسپارل باید ضروری وی.

نوری برخې د ګران هیواد افغانستان لکه قضایی، نظامی، سیاسی،او نور حکومتی اداری څانګی ټول باید د پاملرنی وړ وی.

۲۰۲۱ کال د اکتوبر ۱۲
کلفورنیا،د امریکا متحده ایالات


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ